**لیکونکی : چارلس مکیل ویی(Charles McKelvey)**
**منبع او دخپریدو نیټه : کونټر پا نچ «2018-12-20».**
**ژباړونکی : پوهند وی دوکتور سید حسا م «مل» .**

---

# سوسیا لیزم څه کولای شی او څه نشی کولای چی یی ترسره کړي

# What Socialism can and can't do

سوسیا لیزم د ټولنو اودافرادو داغوښتنې اویا د بد لون په لټه کي دي ، کوم چي غواړي هغوی (ټولنه او افراد) داجتماعی عد ا لت اود شخصی اواخلاقی مسولیتونو یوی لوړی مرحلي ته ورواړوی ترڅو چي د پا نګوالي دا قتصا دی سیستمونو دمنلو دامکا ن وړ اووسی. نو دلته سوال راپیدا کیږی او هغه داچي آ یا سوسیا لیزم دغه کا رکولای شی چی یی ترسره کړي ؟ ځما دژوند کا راو هغه تجربی چی می په متحده ایالاتو، کوبا اود نمونی په توګه هغو ته ورته په نورو مخکی تللی پا نګوالي هیوادونو او د د ریم نړی سوسیا لیزم څخه تر لاسه کړي ، ماته دا توان او قدرت راکړی چی یو شی ته پا م واړوم او هغه داچي څه شی کولای او څه شی نشم کولای چی یی ترسره کړم .

په نړي کي د سوسیا لیستي پروژو اود نړیوا ل نظا م د تنا قضا تو د مطا لعی څخه زه دی ځای ته ورسولم ، چي د ما رکس د بشری تاریخ داقتصا دی اودټولنیز دپرمختګ په مراحلو با ندي دیو نوی ژور کتنی له مخي له سره یو تازه فرمول بندی وکړم .

زما لړلید داوسنی تاریخي دوری په اوږدو کی دادی چي مونږ دنړیوال سوسیالیزم ته دانتقا ل دلمړنیو پړاونو په درشل کی یوواوهغه داچي په موجوده وخت کي سوسیالیستی غورځنګونه دختیځی آ سیا اود لاتیني امریکي په (اوه) هیوادونو کي سیا سیی واک تر لاسه کړي دي یعنی (۷) هیوادونه چی دسوسیالیزم د جوړښت لپا ره په نورو هیوادونو کي هم نژدی ملګری او متحد ین لری اودهغو ملیتونو او پلویا نو سره خپل نژدی اړیکی سا تلی دي اوپه عین وخت کي تر نژدی اکثریت حده پوري لا تر اوسه د سرما یه داری اقتصا دی سیا ستونه دوام لری . اودنړی اقتصا د په رغنده اوښکا ره بنی سره د سرما یه داری د منطق پر بنسټ لار ښونه کیږی . دپا نګوالي نړیوال ا قتصا د چی د ا صلی سرما یه دار هیوادونو کوم چی په شما لی امریکا اوپه غربی اروپا کی قرار لری دنړی اقتصاد دخپل امپریالیستي ګټو د ترلاسه کولو په منظور لارښونه کوی اوپه دی اصل او دلیل سره د سوسیا لیستي هیوادونو پرا قتصا دی نړیوال سا ختا ری پرمختګ باندي خنډ ونه پلی کوی. برسیره پر دی ، دغه ا صلی ا و عمده سرما یه داری هیوادونه

د سوسیا لیستی هیوادونود ا قتصادی پراختیا د کمزورولو په لټه کی هم بشپړ هلی ځلی کوی . کوم چی دغه سوسیا لیستی هیوادونه د نړی دنوی استعما ری سیستم په پلی کیدو سره تر اقتصا دی بند یزونه او تهد ید لاندی راوړل کیږی . او همدارنګه سرمایه داری هیوادونه دخپل اجیر ټولنیز رسنیو له لاری څخه دا توان او قدرت لری چی دسرمایه داری ټولني دارزښتونو اودسوسیا لیستی هیوادونو دایدیولوژیکی پروژو د تحریف په اړین پراحه خپرونی وکړي .

نو ددی ټولوسره سره بیاهم د سرما یه داری د نظا م محدود یتونه په ډیر چټکي سره راڅرګند یږي اود سوسیا لیستی د غورځنګونود ا یدیولوژی دا یجا د اودپراخید و د پا ره شرایط اوزمینه په تتد ریجی بڼی سره مساعد کیږی.

د بشر د ا قتصا دی اوټولنیز پرمختګ روا نی پروسي د سوسیا لیزم دودی امکا نا ت رامینځته کړي اوپه عین وخت کی د بشری پرمختګ په پړاوکی چی مونږ پخپله خپل ځان محدود کوو یعنی په هغه محدود یت چی سوسیالیزم کولای شی هغه سرته ورسوی، لکه همغسی چی مونږ غواړو پوه شو چي سوسیالیزم څه کولای شی اوڅه کولای نشی ، نومونږ باد پر هغه رامینځته شوی امکا نا تو اوپر هغه محدود یتونو کوم چي دا قتصا دی ټولنیز پرمختګ په اوسنی پړا و کی پر انسان باندی تحمیل شوی دی په نظر کی ونیسو

سوسیا لیزم دا ښود لی یا یی په ډاګه کړي چی یو انقلا بی تحول ممکن په زده کړه اومعرفت سره ترسره شي ، ځما ا شا ره د لته دا نه دي چی لوړ تحصیلات او زده کړه په مسا وی بڼی سره هرچا ته میسر دی یا هر څوک ورته کا مل لاس رسی لري ، په پانګوالی ټولنه کي دعالی تحصیلاتو په اړین داسی ادعا کیږی چی لوړ تحصیلات دحقیقت موند نی د ماموریت دپا ره ځاګړی شوی دی یا په بل عبارت دلوړو زده کړو خلکو اصلی ما موریت حقیقت موند نی دی – حال داچی انقلاب د حقیقی ستنو پر بنیا د دټولنیزجوړښتونود بد لونونو غوښتنه کوي یا په بل عبارت سره انقلاب دزړو ساختارونو بدلول په نوی ساختارونو او یا جوړښتونوباندي دي ، په ظاهر کی یو سوچه انقلاب په یو سرمایه داری ټولنه کي د لوړ زده کړی په رڼا کي دیوعقلانی کا ر دپلی کولو توان ترلاسه کیږی ، په هرصورت متعهد انقلا بیا ن کوم چی په سرمایه داری ټولنو کی یولړ روشنفکرانه کارونه غوا ړی ترسره کړی د هغوی دغه روشنفکرانه کا رونه په عملی توګه سره دپا نګوالانو د شد ید مقاومت سره مخا مخ کیږی ، له بلی خوا څخه سوسیالیزم دا توان لری چی د حقیقت په راڅیړولو اوآزا دکولو باندی لاس پوری کړی کوم چي دسرمایه داری نظام له خوا په حقیقت وینو او دحقیقت په را څیړولو با ندی په اموزشی پروګرامونو کی محد ود یتونه لګول شوی دي. ، په هغه ټولنو کی کوم چي د سوسیالیزم د جوړونی په لټه کی دي په نها یت کی د انقلاب د ټولنیز کید و اهداف د لوړو تحصیلاتو سره د یوځای کید و اصلنی د نده اوما موریت دی . دښوونی او روزني د سوسیا لیستی بد لون په پا یله کي یو سوسیالیستی هیواد کولای شی چی انقلابی خلک

رامینځته کړی او په دی برخه کې کولای شو چی داسی ووایوو [: یعنی هغسی خلک کوم چی دا نسا ن پرتاریخ اوداوسنی تولنیز پرتولو تحرکاتو اویا انګیزو باندی اسا سی پوهه ولری ،یا هغه خلک چې په فعاله توګه دوکړنی دموکراسي په جوړونه کی برخه اخلی دوی له یوسره دقد روړ خلک اود دموکرا تا نو له استا ذو څخه هم لاډیر دموکرات دی اوداځکه چې دشتمنو ګتی سیاسیی روند نه بی لاری کوی، یا هغه خلکو کوم چی دامپریالیزم پرنقش دنړی دنوی استعماری نظام په ساتنه باندی پوره پوهاوی لری ، یا خلکو چی دټولو افرادو اجتماعی ،اقتصادی حقونه په رسمیت سره پیژنی ، ا جتماعی او اقتصادی حقونه لکه په مسا وی توګه سره د خلکو لاس رسی ، زده کړه ، روغتیا ، مسکن ، خواړه ، ترانسپورت ، فرهنګ ، بد نی روزنه، یا خلکو چی ددولت لازم نقش داجتماعی اواقتصادی توسه اود پراختیا په اړه د چمتو کونکی مسول په عنوان سره پیژنی ، یا خلکو چې دبین المللی په سطح کی دخلکو اود ملتونو ترمینځ دهمبستګی په برقرارولو کی نقش لری ،یا خلکو چی دخپل ګتی دساتنی په اړه پوهه لری دا ټول له یوسره څخه هغه خلک دی چی یوسوسیالیستی هیواد داسی خلک را زیږوی چې په پا یله کی با ید دغه خلک یود بل احترام پر ځا ی کړي . ]

د بشری پرمختیا په اوسنې پړاو کی هغه ملتونه یا هیوادونو چې دسوسیالیزم د جوړونو په لټه کې دي ،نشی کولای چې په بشپړه بنی سره د خلکو ټولنیز او ا قتصا دی حقونه تامین یا پرځای کړي د بیلګي په توګه په کوبا کی خلک په کامل صورت سره روغتیایی زده کړه ، فرهنګ او بدنی روزنی ته لاس رسی نه لری ، به دی هیواد کې ترانسپورت اومسکن ته برابر لاس رسی نه ترسترګو کیږي ، لږ خواړه تقریباً ټولو ته په دسترسی کی دی اما هغو چی اقتصادی حالت یی نسبتاً ښه دی هغوی ډیرو نورو شیا نو ته پوره لاس رسی لري.

هغه هیوادونه کوم چي سوسیالیستی نظام اعلام کړی دی ونشی کولای چی خلک بلکل په مخکش بد له کړی، اماآکثرخلک په اصولو باندی پوهیږی مګر دوی د نظریا تی اوتاریخی موضوعاتو دانعکاس یادهغه دبا زتا ب سره عاد ت نه نیسی خلک په ځانګړی توګه سره فکرکوی اودهغو سره دا پوهه اودرک شته چې هغوی څه شي ته احتیاج اویا نیاز لری ،چی څه غواړی ،څه شی لری ، اوڅه شی نه لری –اما هغوی په ناځا پی اوپه خود جوشه توګه سره خپل حا لت په تا ریخی اوجها نی مواردوکی نه ژباړی یا نه تفسیر کوی نو دلته لازم دی چی هغوی باید په دوره ای بنی سره له هغه اصولو څخه چي درک لری خپل خا طر ته راولی کوم چی د زده کړی دغه نقش په اګاها نه توګه سره دیو سیا سیی مخکښ پوهی په لړلو سره تر سره کیږي .

هغه ملتونه یا هیوادونه کوم چی سوسیالیستی نظام یی را مینځته کړي کولای شی چی له خلکو څخه مخکښا ن جوړ کړي او دغه مخکښ افراد هغه کسا ن وی چی هغوی په نظری اوپه عملی توګه سره دا نتقا د اود نیوکي په معرض کې قرار ولری

اودخپل مشخصو انقلابی د ند و د سرته رسولو تعهد دی د کا ر په محل ځه د دولت په چوکاټ کی اویا ځه په مد نی سازما نونوکی وركړی او هغه هم په دی مفهوم چی دهغو کار اوفعا لیت د ا نقلاب داسا سی اهدافو سره همغږی ولری او خپل ځان دهغه اهدافو دترلاسه کولودپا ره هرډول قربا نی اویا سربښيند نی ته چمتوالي وښيي. مخکښان په اصلی ټولنیز نها دونو ، په وګړنی سا زما نونو اود خلکو د قد رت د پیا وړی کید و په جوړښت کی د ندی تر سره کوي او خلکو هم دهغو دکا ر د ښه کیفیت له امله دهغو قد ردا نی کوي.

د بشری پرمختیا په اوسني پړاوکي یوسوسیا لیستی هیواد له هرڅه نه مخکي مخکښا نو ته چي خلکو ته زده کړه او لار ښونه وکړی احتیاج لری، هغه هیوادونه چی سوسیالیزم جوړوی نوهڅه کوی چی یو سیاسیی ځای ناستی یا بد یل را مینځته کړی چي خلک په هغه کی په آزاد توګه سره خبری اتری وکړی او په پوره آزادی سره تصمیم ونیسی نوپه دی وجهه سره مخکښا ن د زده کړو با مسولیت د ندی ترسره کوی او هغه داچي هغوی دخلکو دبحث اوپخپل مینځ کی دخبرواترو او بیا د خلکو دپریکړي د پاره مساعد شرایط برابروی اود خلکو دموجوده ستنوځی د حل لپاره لاری لټوی اودهغو سوالونو ته ځواب وایي نو مخکښا نو با ید چي د خلکو با ور او اطمینا ن ته درنا وی او هغه وساتی نو که چیری د خلکو اعتما د دلاسه ورکړی نو په هغه صورت کی سوسیا لیزم خپل هد ف نشی تر لاسه کولای اود سقوط سره مخا مخ کیږی .

اعلان کړل شوی سوسیا لیستی هیوادونه با ید چی د شتمنی یا د ملکیتونو مختلف شکلونه اویا ډولونه ولری او نه یواځی دا چی محضاً ټولنیز ملکیتونه لکه دولتی یا تعا ونی اموال او ملکیت ولری. کوم چي داپخپله دلاندی حقا یقو څخه یادونه کوي :

سوسیا لیستی طرحی او یا پروژی کولای شی چی ا نقلابی خلک جوړ یا را مینځته کړی اما نشی کولای چی ټول خلک په بشپړه توګه سره دمخکښو افراد دځانګړی کرکترونو په درلود لو سره واړوی یا تبد یل کړي بلکه یواځی په قسمی بڼی سره کولای شی چی تر یو حده پوری د خلکو ما دی غوښتنی تا مین کړی اما کله چی د شرایطو په نظرکی نیولو سره دخلکو مادی غوښتنی تامین ونشی نو خلک په هغه صورت کی په خصوصی یا شخصی فعا لیتونو لاس پوری کوي یعنی په غیر رسمی توګه دکا لیو په تولید ،خرڅلاو اوراکړی ورکړی باندی مشغول کیږی اوداځکه چی د ټولنیزی پروژی د محدود ظرفیت انعکاس نشی کولای چی خلک په بشپړ بڼی سره بد له کړي نو دهمدی اصل په نظر کی نیولو سره هغه خلک چی دتولید دلوړ ظرفیت سره بالد تیا اویا عا د ت لرل هغوی هم دنارضایتی انګیزو په لرلو سره دکم کارکولو عادت پیداکوی چي په دی ډول سره خپل دندی په دولتی اویا په تعا ونی موسسو او نها دونو کی دلاسه ورکوي. سوسیا لیستی دولت چی دتولید زیاتولو ته اړتیا لری ترڅو چي وکړی شی دخلکو احتیاجات پوره کړي نو با ید چي د خلکو غیر رسمی مشغولتیا او تولیدی فعالیتونه

ددولت دملی اقتصاد په پلان کی شامل کړي اودا با يد دکا ر دهڅونی له لاری د تولید کونکو خلکو په عا دت واړول شی او په رسمی توګه سره دغه خود مختا ری اویا خصوصی ملکیتونه سربیره پر تعاونی اودولتی تولنیز ملکیتونو په رسمیت سره وپیژندل شي او بیا د تولید پر اسا س دتولید کونکو دمعا شا تو دورکولو د میکانیزم لاری جوړ کړي .

اعلان شوي سوسیا لیست هیوادونه نشي کولی د بیوروکراسي له منځه وړلو کې مرسته وکړي. په سیا سي قدرت کې سوسیا لیستي انقلاب باید د خلکو اړتیاوې او غوښتنې پوره کړي، اودا با ید چی د بیروکراتیک جوړښتونو پر اسا س تکیه وکړي ترڅو د توکو او خد ما تو تولید او ویش اسا نه کړي. که څه هم انقلابي پروژه نشي کولی بیوروکراسي له منځه یوسي، یا داچی دا نشي کولی د بیوروکراتیک ذهنیت له مینځلو څخه ډډه وکړي، په کوم کې چې خلک خپل ځا نګړی دنده ترسره کوي، د اړتیا وو بې با وري دی .

په پایله کی دغه واقیعت چی سوسیا لیستی هیوادونه نشی کولای چی بیوروکراتیک جوړښتونه اوبیوروکراتیک ذهنیتونوته بد لون یا تغیرورکړي ځکه چي دوی نشی کولای چی دڅوند عا دی شکلونه اویا نمونی اویا دسلوک ځا نګړتیا وی له مینځه ویسی کوم چی دغه واقیعت نه یواځی داچی د خلکو په مینځ کی شتون لری بلکه د مخکښا نو په مینځ کی هم دغه روش تر سترګو کیږي ، نو په دی اسا س هغه کوم کسا نو چی زیږونکی او خلاقا نه نظریات لری نو د خپلو نظریا تو په مقابل کی دخصومت دنه منلو له مخی د مقا ومت سره مخا مخ کیږي لکه هغسی چی په سرمایه داری جا معه کی واقع کیدای شی ، نو دهغه پر ځای دوی د یو ډول نا لید لی فرعی وړاند یزیونو په وړاندی کولو اود ضرورت له مخی د دلایلو دراوړلو پرځای په توضحی توګه سره دعذ ر او بخښینی موضوع خپله کوي .

سره له دی چي په اوسنی پړاو کي بشری اقتصادی او اجتماعی پرمختیا چندان نه ترسترګو کیږی یا دهغه د توسعه امکا نا ت محدود دی نو سوسیالیزم یو لړ دتوجه وړ لاسته راوړنی لری مثلاً دوګړنی قد رت جوړښتونه ، وګړنی د موکراسی ته پراختیا ورکونه کوم چی دخلکو داجتماعی اقتصادی حقونو دسا تنی دپام وړ زیاتوالی موجب را برابرکړی دی او ددولت څخه دیوهمکا ر په بنه کوم چی دولت په مستقیم ډول سره اقتصاد دخلکو د نیا ز پر بنیا د رهبری کوی د دولت له دغه لار ښودونو څخه ګټه تر لاسه کوي – دا انقلابی خلک دي چي له اصولو څخه پوره پوها وی او درک لری اودوی دخپل مخکښی اود زړه ورتیا ویاړني ، خلکو ته دخپل تعهد په سپارلو اودسختو کا رونو په د ترسره کولو سره تر لاسه کړی دي . اوبیا د بین المللی په سطح کی دغه (اوه) سیوسیا لیستی هیوادونه یودبل اود نورو هیوادونه په مرسته سره لمړی ګا مونه د بهره کشی اود مسلط استثما ری نظا م پر ځا ی په بین لمللی سطح کی یو پایه دار او

عادلانه کلک دموکراتیک نظام رامینځته کړل.

نن ورځ سوسیا لیزم دوه اصلی د ښمنا ن لري : **لمړی** امپریالیستی تیریکونکی اومتجا وز کوم چی ددغه« اوه» سوسیا لیستی هیوادونو دهری پرمختیا یی پروژی په مخه خنډونه رامینځته کوی اود هغه پروژو د نا کا می د پا ره له هره ممکنه وسیلی څخه کار اخلي **. دوم** : ارما نی یا ا ید یا لیستی سوسیا لیستا نو کوم چي دوی پرسوسیا لستی هیوا دونو با ندي نیوکی کوی اوهغه هم دهغه څه له امله چي دوي په اوسنی پړاو کی بشری پرمختګ نشی کولای .

## ددی مقا لی دلیکونکی په مورد کي څو کرښي :

**Charles McKelvey** د پری سبای تیراین کلنتون (Presbyterian college) متقاعد پروفیسورپه جنوبی کارولینا کی،هغه د کوبا د ا نقلاب د تکامل اودهغه دا همیت په مورد کی د یو کتا ب مولف دی د هغه نور کتا بونه لکه رڼا په ترږمی کي ، (Polgrave Macmillan 2018) دهغه وبلاګ ، له جنوب څخه لړ لید ، دنړی د پیښو تفسیر او دا سی نور لیکنی او مقا لی دی (http://www.globallearning-cuba.com/blog-umlthe-view-from-the-southuml).

___________________ پـه سلا مونو (2018-12-22)